ټکونه

ټاکو

# خوشامنده او خوشامندګر

## دواړه د کار شیزونه دي

د پاکستان یو فوځي آمر جنرل ضیاء الحق د چا په مشوره یا په خپله خوښه سندھ ته د باب الاسلام نوم ورکړو. دې لړ کښې سکھر کښې یو سیمینار جوړ شوے ؤ. دې سیمینار کښې مرد مومن مرد حق جنرل ضیاء الحق هم د مشر مېلمه په حیث موجود ؤ. پروفیسر اسدالله بوټو د سټېج سکتر ؤ.

پروفیسر صېب په دې موقعه دا اهم تاریخي انکشاف وکړو چې د سندھ مشهور تاریخي جومات د موهنجوداړو نه هم زوړ دے. ټولو حاضرینو سره د جنرل ضیاء الحق داسې لاسونه وپړقول لکه چې پروفیسر اسدالله بوټو دومره رښتیا وئیلي وي چې د چا پلار ئې هم دروغ نۀ شي ثابتولے. ضیاء الحق ځان سره موسکے شو چې ما موده بیا دې مونده. زۀ چې څه وایم خلق د هغې نه څو قدمه مخکښې ځي. ځکه چې جرنیل صېب او پروفیسر اسدالله بوټو دواړو ته دا ښه پته وه چې اسلام د موهنجوداړو تهذیب نه مخکښې عربو کښې نۀ ؤ نو په سندھ کښې جومات د کومې راغلو. خو د جرنیل صېب حکم ؤ. پروفیسر صېب تاریخ بدل کړو خلقو ور ته لاسونه اوپړقول او اوس له خېره د سندھ دغه جومات د موهنجوداړو د کنډراتو نه هم لرغونے او قدیم دے. نشته داسې جرات په چا کښې چې موهنجوداړو د دې جومات نه مخکښې لرغونے یا زوړ وګرځوي. کۀ دا حرکت چا وکړو نو نۀ صرف کافر دے بلکې د پاکستان هم دښمن دے.

د خوشامندو هیڅ حد نشته. او دا هم یو ځلنده حقیقت دے چې خوشامندګر اکثر تاریخ دانان،پوهان او شاعران ادیبان وي. دا قصیدې چې

لیکي دا څوک دي خو شاعران دي. دا تاریخ چې لیکي دا څوک دي دا آعلی تعلیم یافته خلق دي چې خلق ور ته روښان فکره،پوهان او د فکر و علم خاوندان وائي. دوي هغه څه لیکي چې څه ور ته خپل نائیک حکم کوي. کۀ ډېر رښتیا ولیکي نو هغه دومره رښتیا وي چې څومره د دۀ نائیک ته منظور وي او د هغه څه نه خپل قلم او کاغذ په امان ساتي کوم چې د دۀ نائیک نۀ غواړي کۀ هغه هر څومره رښتیا او حقیقت وي.

پروفیسر اسدالله بوټو څه عام سړے نۀ ؤ. پروفیسر ؤ. او یو سندهي پروفیسر ته به څنګه د موهنجوداړو د قدامت علم نۀ وي. دا سلسله څه اودرېدلې نۀ ده او نۀ د دې آغاز پروفیسر اسدالله بوټو کړے ؤ. دا هر څه د پخوا راهسې را روان دي. او سلسله روانه ده. جنرل ضیاء الحق ته د دې نه پس د مرد مومن مرد حق خطاب هم چا دهقان، مزدور یا خواري کښ نۀ دے ورکړے بلکې چا پیر فقیر،پروفیسر،مولانا او مفتي به ورکړے وي. د دې نه مخکښې یو بل فوځي آمر فیلډ مارشل محمد ایوب خان ته هم دغه صاحب امرائے قوتونو د صلاح الدین ایوبي خطاب ورکړے ؤ. او هغه ئې دومره د هوا په ټټو سور کړو چې هغه څه ئې وکړل چې څه ئې خوښه وه. او بیا جنرل ضیاء الحق ته لاره هواره وه.

د خوشامندګرو کمے په یو دور کښې هم نۀ وي. خوشامندګرو تل فائده موندلې ده خو د چا چې خوشامندي کړې هغه تل نقصان موندلے دے. خو بیا هم هر څوک په خپله خوشامنده داسې خوشحالېږي چې خپلې ارتې بیرتې جامې پرې لنډې تنګې شي. تاسو دا مۀ ګڼئ چې دا لوئې لوئې افسران چې په اوچتو اوچتو چوکیو ناست دي دوي دا چوکۍ په خپل قابلیت موندې دي. البته دوي سره د خوشامندو کولو قابلیت دومره اثرناک وي چې د خپل نائیک د کاڼي زړۀ نه هم موم جوړ کړي.

دا وزیران او د اسمبلو ممبران چې تاسو ګورئ دوي کښې هم دا صلاحیت موجود وي. ځینې خوشامندګرو ته خو د خوشامندو فن او هنر د پلار نیکۀ نه په وراثت کښې پاتې وي. د خوشامندو هنر د دوي په خټه کښې اغږلے شوے وي. دوي نه دا صفت یا هنر ویستل ځان سره دوکه کول او د قوم نه لاره هم خطا کول دي.

تاسو خپل ګېرچاپېره نظر واچوئ تاسو ته به خوشامندګر دومره په ګڼ تعداد کښې ښکاره شي چې حېران دریان به شئ. کۀ د دوي تاریخ او جغرافیه مو ولوسته نو تاسو ته به معلومه شي چې پښتونخوا ته سکهان چا راوستي وو. او بیا انګریزان چا راوستل او د انګریز خوشامندې چا وکړې او د هغه خوشامندو صله ورته څه په لاس ورغله. دا نن چې د وزارتونو په چوکیو ناست دي

د دوي د نیکونو کردار هم دغه ؤ. دا جدا خبره ده چې د دوي خپلو کښې رقابتونه وي. یو بل ته لارې نیسي. او ځان ته لار کولو دپاره ئې بیله بیله سیاسي پارټي خوښه کړې ده.

قیصه مې سیاستدانانو ته ورسوله. دا سیاستدانان غریبانان ډېر مظلومان دي چې د چا د بدو خبره شروع شي نو په سیاستدان غریب اودرېږي. ما خبره د پروفیسرانو،مفتیانو او پوهانو کوله.

یو محفل کښې ناست وُم د تحریک انصاف پښتونخوا د حکومت یو وزیر هم راسره خوا کښې ناست ؤ. مخامخ راته یو پروفیسر کرسۍ نیولې وه. د پروفیسر صېب همدردۍ د یو مذهبي سیاسي ګوند سره وي. پروفیسر صېب ګویا شو چې عمران خان د دۀ ډېر خوښ دے. ډېر پوهه او ایماندار لیډر دے. پروفیسر غریب لا خپل تقریر سرته نۀ ؤ رسولے چې ټاکو ور ته ټک ورکړو. چې ولې ډاکټر صېب تاسو هم د وائیس چانسلر دپاره امېدوار یئ. پروفیسر صېب غلے شو. ورسره ټول محفل هم غلے شو. خاموشي خوره شوه. زما په خوا کښې ناست وزیر صېب زۀ رو غوندې ترخ کښې وسکونډلم چې اخوا دې خوا مې نظر واچولو نو د هر چا سر ښکته خو شونډې ئې موسکۍ وې. شاید چې د ټاکو ټک رسا ؤ. د پروفیسر صېب دې چار ښه وي سلام دعا ئې راسره نۀ دي پرېښې او نۀ ئې رانه څه ګیله کړې ده.

خبر د خوشامندو او خوشامندګرو مثالونه دومره دي چې کتابونه پرې لیکلے کېدے شي. خو ټاکو هم کله کله د تلې ډنډۍ وهي. ډېر رښتیا نۀ شي وئیلے. زیات مثالونه ورکوي د خولې خوند خرابولے شي ځکه چې هغوي ځان پېژني او بیا به راسره سلام دعا پرېږدي. او زۀ نۀ غواړم چې زما د دوستانو یارانو او خپلو خپلوانو دائره دې راتنګه شي. هر وخت ټکونه ورکول هم خوند نۀ کوي. ټک به ټاکو ورکوي خو کله کله او یو نیم کس ته. هر وخت او هر چاته نه. ځکه چې نور خلق هم شته ټوله ذمه واري زما په سر نۀ ده.

زما د ټک سره نۀ خوشامندي کمېدے شي او نۀ خوشامندګر. دا دنیا کۀ ښائسته ده نو د خوشامندګرو په خوشامندو ښائسته ده. کۀ خوشامندي نۀ وے نو په دې کرسو به بنده څنګه کېناستو. زما په خیال واکمن (Authority) ته به د دستار د سرې په انتخاب کښې ډېر مشکل ؤ. خوشامندې خو د واکمن کار تر کافي حده اسان کړې. او زر د کرسۍ دپاره د کرسي نشین انتخاب وکړي. او کار روان شي. مطلب دا چې خوشامنده او خوشامندګر دواړه د کار څیزونه دي. ځکه خو ځینې خلق د یو بل خوشامندې کوي. دې کښې د دواړو کار جوړ وي. دا هنر هم دے او مصلحت هم. عقلمندي هم ده او سیاست هم.